ناشر و نویسنده: آصف بهاند
تأریخ: ۲۰۱۴/۱۲/۱۱

# «د وینو واټ» له اړخ سره یو څو خبرې

«د وینو واټ» د سلیمان لایق په شعرونو کې هغه قصیده ده، چې د «اور اخیستي» افغانستان په وینو لژند اندامونه او په اور کې سوځېدونکي هډونه په کې، په هنرمندانه او استادانه ډول انځور شوي دي.
د لار ورکو لارویانو د قدمونو د ګردونو په تعقیب پسې، ماسکو ته رسیدلی وم او د کومې کړې ګناه د جرم په ونج کې خدای د قلم په ځای د پنډیتوب پرې را په برخه کړی و.
د ګنهګارو په دې صف کې زه یوازې نه وم، ښایسته ډیر قلموال او د افغانستان د فرهنګ د بڼ ډیر ګونګې شوي بلبلان هم زما د ګناه په اور کې خپل وزرونه سیځلې ګڼل. د نا کړې ګناه په تور د پردې مُلک په نا بلدو کوڅو کې نا امیده او سر ګردا ن ګرځیدم. د بې کسۍ او بې وطنۍ اوښکې به مې په غاړه کې د پنډې ګرۍ پر پرې را بهیدې، خو بیا به مې هم ځان ته دا تسلا ورکوله چې: څه سریه! سر او ناموس خو دې سلامت را ایستلی دی.
په همدې نا امیدیو کې مې یو څه سا واخیسته، وروسته له یو څو شخصي فرهنګي محفلونو او مشاعرو نه په ۱۹۹۴م کال کې د ګنو فرهنګیانو په هڅه او هاند، «د افغانستان د فرهنګ ټولنه» په نامه فرهنګي ټولنه جوړه شوه.
په دې ټولنه کې د افغانستان د فرهنګ د بڼ د بیلابیلو برخو وزر سوي بلبلان سره راټول شوي وو. ما ته د دې ټولنې د منشی توب او ادبیاتو د برخې مسولیت راسپارل شوی و. په ډیر جنجال او زحمتونو مو په د افغانانو په تجارتي مرکز کې د ټولنې له پاره یو دفتر ګوتې پیدا کړی و. زه هر مازدیګر وروسته له درانه جسمي کار او جوالیتوب نه هلته ورتلم، دا دفتر به مې پرانسته او فرهنګیان به ورته راتلل.
یوه ورځ ګران شاعر عارف خزان را ننوت. ده په دې وخت کې دلیمي مجلې د چلولو مسولیت درلود. له راننوتو سره سم یې څو پاڼې په میز راته کیښودې او وې ویل:
«دا پاڼې به وګورې، خپل نظر به دې راته ووایې، چې زه یې بیا په مجله کې خپروم.»
ما د چایو ورته وویل، خو دی د نه په ویلو سره سم له دروازې ووت.ما چې پاڼې پرانستې، نو پر تندي یې لیکلي وو:
«د وینو واټ»
زه مخکې له دې چې متن ته ورشم، په زړه کې مې تیر شول چې:
دا څه حال دی، دلته هم لکه چې له وینو نه خلاصیږو او ...
متن ته چې لاړم، توري او جملې آشنا راته ښکاره شوې، ما وې چې سبحان الله، لکه چې «د اباسین سپیدې» یې له سره لیکلي دي. کټ مټ هماغه انځورونه چې د اباسین د سپیدو په نثر کې وو. طاقت مې ونه شو، د پاڼو سر او پای مې په بیړه بیا له سترګو تیر کړل ، چې په کوم ځای کې لیکلي وو:
«سلیمان لایق»
پوه شوم چې لایق بیا «د شعر نغرۍ» تود کړی دی.
په ۱۳۶۳ کال کې د افغانستان د لیکوالو ټولنې له خوا د افغانستان د معاصر شعر پر ځرنګوالي باندې جوړ شوي سیمینار ته ما(آصف بهاند) هم یوه مقاله لیکلې وه. په هغې مقاله کې پر نورو شاعرانو باندې د بحث تر څنګه، په ډیر لنډ ډول د لایق په شعر او شاعرۍ باندې هم غږیدلی وم. هلته ما ویلې و چې د ثور له اوښتون نه وروسته، د لایق شعر د سیاسي او اداري مصروفیتونو په وجه، ضعیف شوی دی.
په هغې ورځې د سیمینار د غونډې مشري استاد صدیق روهي کوله او لایق هم حضور درلود. کله چې ما مقاله واوروله ، پوښتنې او ځوابونه خلاص شول، ما غوښتل چې له دریځ نه خپل ځای ته لاړ شم. روهي صاحب غږ وکړ:
«بهاند صاحب، لږ صبر وکړه!»


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بنې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په خیر و لولئ

ما فکر وکړ چي دی خپله کومه پوښتنه لري. روهي صاحب لایق مخاطب کړ او ورته وې ویل:
«لایق صاحب څه چي دې زلمي ستاسو د شاعرۍ او شعر په باب و ویل تاسو یي منئ او که څه استدلال کوئ؟»
لایق په یوه لنډه جمله خبره خلاصه کړه:
«هو زه یي منم.»
زما دا یاده مقاله په هماغه وخت (۱۳۶۳) کي د لیکوالو ټولني په نشراتي ارګان ژوندون مجله کي چاپ شوې ده چي اوس یي زه په واک کي نه لرم.
لایق «د وینو واټ» له پاره یوه لنډکۍ مقدمه هم لیکلي ده. په دې مقدمه کي لایق د دې یادونه کوي چي دشعر هغه نغرۍ یي چي پخوا سوړ شوی و، اوس یي بیرته د تودولو او تازه کولو تکل کړی دی. د دې مقدمي په یوه برخه لولو:
«د ۱۹۹۲م کال د می په میاشت کي له اور اخیستي افغانستان څخه، د کوزې پښتونخوا د خیبر سیمي ته ووتم. ور پسي د عبدالولي خان په میرانه د باچا خان د اشنغر په «ولي باغ» کي له ده سره دیره شوم.
د ماتي او بد مرغیو په توره تاریکه او د سیاست ړړه؟ لرې کي مي د زړه د تودولو له پاره د شعر نغری تود کړ.
تر هر څه د مخه مي د لومړي ځل له پاره د خان عبدالغني خان په آدرس، چي هغه وخت د اوږدې نا روغی په وجه د مړیني د انتظار پر بستر پروت و، دغه قصیده ولیکله ...»(لیمه، پرله پسي لسمه ګڼه،دویم کال، دویمه ګڼه، ۱۹۹۹ کال مارچ، ۴۱ مخ)
«د وینو واټ» له سویو او سرو ځاځکو نه به د یو څو را تویو شویو قطرو ننداره وکړو:

دا زمو د سترګو ورانـدې، «غني» ګـوره څـه تیـریـږي
یو باتـور ملت غرقـیـږي، یــو مظبـوط وطـن نـړیـږي
یـوه دنــیـا د بــرم او بـذل، یــوه نـــرۍ د مـیـړنـیــو
د غـروب پـه لـوري درومـي، د تـاریخ لـه پاڼـو لـویـږي
پاس د ستورو رانه ځاځکي، را ته ښکاري اوښکي اوښکي
د آسمـان پـه شنـو غومـبـورو، لاري لاري را بـهیـږي
سر چي ږدمه پـه سر ویـږدي، هیبتناک غـږونـه اورم
ته وا ځمکه منـځ کـي دوه شـوه، افـغاني وطن ډوبیږي
یا آسمان زموږ په ویر کـي، ښـکـتـه پـریوتـه په ځمکه
یا قیامت پـه ځمکه جوړ شـو، ولاړ غـرونه هـواریـږي ...

د قصیدي کوم متن چي په لیمه کي چاپ شوی دی ټول اته اتیا (۸۸) بیتونه دي. د قصیدي کوم قلمي متن چي د «لیمه» مسؤل چلونکي ښاغلي خزان ما ته راکړی و، په هغه متن کي په څو بیتونو کي له ځینو ځایونو نه کرښي را تاو کړای شوي وي. ما قصیده تر پایه څو ځلي ولوسته او هر ځلي مي چي بیا بیا لوستله، په مخ کي مي د لایق د شعر غرونه نور هم پسي لوړیده او زړه کي مي ویل:
خدای د شعر داسي خزانه او استعداد ورکړی دی چي ښایي د بشریت په تاریخ کي بی په لږو انسانانو لورولی وي او شکر دی چي لایق بیا د شعر نغری تود کړ او داسي یي تود کړ چي لا دلته یي د واورو اوسړو په دې ځاله کي زما د میاشتو او کلونو ساړه هډونه را تاوده کړل.
ما چي بیا خزان صاحب ولید، د په ښبه شویو ځایونو مي ورته و ویل. ده و ویل چي زه خپله مخالفت نه ور سره لرم، خو خبره دا ده چي د مجلي ډیری لوستونکي په افغانستان او پاکستان کي دي، ملایانو ته داسي تشبیهات راوړل، یو څه حساسیتونه را پاروي.
ما ورته وویل چي خزان صاحب! شاعر او د مجلي چلونکي د هغوی د واک له دایرې بهر دي، ځکه کوم خطر نه ورته پیښیږي. که د دې قصیدې دا څو په ښبه شوي بیتونه که و ایستل شي، قصیده نیمګړې راځي، دا به په لومړي ګام کي له شاعر سره، د شاعر له فکر او هستوني سره جفا وي او بیا به له هنر، ادب او فرهنګ سره یو څه ښه چلن نه وي. قصیده نیمګړې راځي
د ده دې هم کور ودان وي، زما خبره یي ومنله او قصیده چي اته اتیا (۸۸) بیتونه وو، په بشپړ ډول خپره کړه.


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنیزې بڼي پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکي په خیر و لولـئ

ښايي شاعر به قصيده په کوم بل ځای کې یا په خپله کومه ځانګړې ټولګه کې بیا چاپ کړې وي، خو زما له نظره نه ده تیره شوې.
جهان بدل شو، د جهان سیاست بدل شو او بدلیږي پسې. داسې وخت هم راغی چې «د وینو واټ» شاعر د ملا په واکدارۍ او حکومت کې د ملا تر ږيرې لاندې د ملګرو ملتونو د یو استازي په ډول په هماغه پاخه عمر بیا د اور اخیستي او ټپي افغانستان له پاره کار پیل کړ او اوس هم همالته د وطن د مینې په دایره کې د افغانستان غونډې د یو پنځه زره کلن سپینږیري د زخمونو د مداوا په غرض د افغانستان دعلومو په اکاډیمۍ کې هلې ځلې کوي او خپلې دغې کړې وعدې ته  د عمل جامه ور اغوندي، چې پخوا یې له وطن او خلکو سره کړې وه:

د مینې لار اوږده ده، په ورور ورو به سره ځو

بې چیغو، بې ځګیرویو، بې نـارو بـه سره ځو

پای


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي.  په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ  maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولـئ